د پالیسي پاڼو د خپرونو لړۍ
د افغانستان په ښاري سیمو کې د بیوزلۍ لمنځه وړل

# د ژوند د ښه کولو او سیاسي ثبات په موخه د باکیفیته او ثابتو تنخواوو دندي رامنځته کول

۱۳۸۶ کال د وری میاشت
د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
پالا کانټور او ستیفن شوټ

## لنډیز

د زیاتو غوره او دایمي دندو او کاري فرصتونو رامنځته کول باید په سیاست جوړونه کې د لومړۍ درجې لومړیتوب په توګه په پام کې ونیول شي. د پلان جوړونې دغه ګام نه یوازې د ژوند د ټولیزې ښه والی د رامنځته کولو لپاره، چې په ټول افغانستان کې مخ پر ودې ښاري مرکزونو کې اړینه ده، بلکې په خپله مرکزي دولت پر خپل ځان متکي او باوري کولای شي، چې له جنګ ځپلو وروسته د سیاسي ثبات په موخه د ټولو وګړو خدمت وکړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره پدې هکله مطالعه ترسره کړې ده، چې د کابل، جلال آباد او هرات په ټولو ښارونو کې،۱۲۰ کورنۍ د ۱۲ میاشتو اوږدې مودې په دوره کې له ورځنیو ګواښونو څخه څنګه بریالي را وتلي دي.[1] دغې څېړنې ښوولې ده، چې زیاتره ولسي کورنۍ له هغو کارونو څخه بې برخې او محرومې دي، چې دوامداره او عاید یې باثباته او نسبتا مناسب دي په پایله کې دغه کورنۍ پرته لدې چې د خپل راتلونکي لپاره پلان جوړ کړای شي، خپل ورځنۍ ژوند پر مخ وړي. د سیاست جوړونې دغه لاسوند سند په لنډمهاله او منځمهاله فرصتونو کې دایمي او د غوره شرایطو لرونکو دندو ته د زیاتو وګړو د لاسرسۍ په موخه ځینې معیارونه وړاندې کوي ، پاڼه وګورئ. دا کار د افغانستان په ښارونو کې د بېوزلۍ د راکمولو او عادلانه پرمختګ او پراختیا لپاره ډېر حیاتي او اړین دی او کولای شي، مرکزي دولت ته په کورني او بهرني کچه اعتبار ور په برخه کړي.


## محتوا

د افغانستان په لویو ښارونو کې ډېرې دندې نامنظمې او کاري ورځې او معاش بې منظم نه دی، چې پدې سره ډېرې کورنۍ د خپل راتلونکي په هکله اندېښمنې او نا آرامه دي ۱
غیر منظم کارونه له ډېرو کاري ورځو سره ان تر اوسه له ځانه سره ناکافي عواید لري ۲
وړاندیزونه ۴

## د افغانستان په لویو ښارونو کې ډېرې دندې نامنظمې او کاري ورځې او معاش بې منظم نه دی، چې پدې سره ډېرې کورنۍ د خپل راتلونکي په هکله اندېښمنې او نا آرامه دي

لومړۍ ښه ،شکل. دا ښیي چې د مطالعې په دغه اړونده دریو ځایونو کې څومره لږ اندازه کارګران کولای شي، چې نسبتاً په دایمي دندو او ثابتو مزدوریو تکیه وکړي کله چې د کار ورځې غیر منظمې او معاش بې هم ثابت نه وي، نو د راتلونکي لپاره په پلان جوړونه کې ورځنۍ مزدورۍ او یا په دارایيو کې پانګونه هم لومړیتوب پیدا کوي دغه بې ثباتي د افغانستان د ښارونو کاري بازارونه انځوروي، چې په هغې کې د زیاتره افغاني کارګرانو د ژوند اصلي سرچینه غیر رسمي کار اوبار دی په غیر رسمي کارونو کې بې قرارداده مزدورۍ، کورني تولیدات، کورني کارونه او په وړو شرکتونو کې آزاد کار شامل

*لومړی شکل*: د کار د نوعیت پر اساس د کارکوونکو ونډه





[1] په دغه اوږدمهاله څېړنه کې چې، د اروپا کمیسیون له خوا تمویل شوه، ,, کورنۍ په کابل، هرات او جلال آباد کې وڅېړل شوی د دغی پروژی په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره په افغانستان کې د ښاری معیشتونو څېرونه د ستیفن شوټ لیکنه وګورئ کابل د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.

## د لیکوالانو په هکله

پالا کانتور د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری د معیشتونو او جنسیت د څېړنو لوړ رتبه مدیره ده. نوموړی په برتانیې کې د شرقی انګلیا په پوهنتون کې د انکشافی مطالعاتو په څانګه کې د ښوونکی په توګه هم دنده تر سره کوی. نوموړی د بیوزلی او زیان منلی د مطالعې، او کاری شرایطو ته د لاس رسنې، او د هغه عوایدو تحلیل په برخو کې د جندر (جنسیت) له ترلید څخه تخصص لری. ستیفن شوټ د دغه څېړنیزه اداری د ښاری معیشتونو پروژه له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۶ پوری اداره کوله. اوس مهال، نوموړی د څمکو د پالیسی او اداری سمون د یو پروژی د ملی مشرتابه په غاړه لري، دغه پروژه د بین المللی پرمختګ لپاره د برتانیې سازمان، آسیایی انکشافی بانک او د کرنې او اوبه لګونې وزارت په ګډه مخکې زی.

دوهم شکل: د کار متوسطي ورځې او په کال کې له ,,, ورځو څخه لږ کاري ورځې




دی، چې اکثره یې دکورنیو په دندو او د ټیټې کچې په ټکنالوژۍ ولاړ دی غیررسمي کاراوبار په زیاتو سیالیو ، د کار په نامنظموالي، د ګټې په لږوالي او د موسمونو په بدلون سره اغېزمن او متاثره کېږي.

د مطالعې په اړونده ښېلګه کې د لومړنی کار ډولونه، موقت کار او آزاد کار دی موقت کار لکه د ودانیو جوړولو ، کارځای، د بزګرۍ ورځني کارونه، د مالونو د لېږد او را لېږد کارونه د مطالعې په اړونده ټولو ځا یونوکې یو پر دری او یا زیاته برخه جوړوی آزاد کار لکه ,وړوکې سوداګري، لاس پلورنه، د کراچۍ کاراوبار او دکانداري زیاتره په کابل او جلال آباد کې رواج او تمرکز لري کورني کارونه چې زیاتره د ښځو لخوا ترسره کېږي، په کابل او هرات ولایتونو کې رواج لري دا تعجب وړ خبره نه ده، چې په دغه دوو ښارونو کې د فعالو ښځو کاري ونډه زیات وجود لري، داسې تر سترګو کېږي، چې د جلال اباد ولایت د نورو ولایتونو په پرتله ډېر سنتي چاپېریال لري او هغه صنایع چې دکورني کار لپاره مناسب دي، پدې ولایت کې لږ تر سترګو کېږي.

د کلیوالي ژوند څېړنو ښودلې ده چې په هر کال کې د ژوند مخ ته وړلو لپاره اساساً ,,, کاري ورځې ضروري دي دا احتمال لري، چې دغه اساس به په هغه ښاري سیمو کې ډېر لږ وي، چې هلته قېمتونه او بیې لوړې دي او اوس مهال لږ شمېر کورنیو دغه اساس ته لاسرسي پیدا کړې ده (۲ لنبلیک او ,لنبتلیک). په غیر رسمي ولسي اقتصاد کې د کاري فرصتونو نامنظموالی د متوسطو کاري ورځو لخوا او همدارنګه په هر ډول کارونو کې چې د ژوند د معیار[3] څخه یې کچه ټیټه ده ښکاره او څرګند دی.

لومړی لنبتلیک ,جدول دکار له ډول سره سم د کاري ورځو تنوع ښیي یوه ورکړل شوې ښېلګه څرګندوي، هغه کسان چې د مطالعې او څېړنې په اړونده ځایونو کې دایمي دندې لري د کاري ورځو لوړ او د پام وړ رقم یې بشپړ کړی دی دغه موضوع دکاري ورځو په چوکاټ کې د دایمي کارونو کیفیت ښه او بهتره کوي.

د پام وړ بل ټکی دا دی، هغه کسان چې په خپلو کورونو کې په کارو بوخت دي، د هغو سیالو کسانو پرتله ډېرې کاري ورځې لري، چې له کور څخه بهر بل چېرې کار کوي سربېره پردې هغوی په جلال آباد او کابل ښارونو کې د موقتو کار کوونکو پرتله ډېرې کاري ورځې لري همدارنګه د هغو ورځو شمېره چې د کابل ښار کورني کار کوونکي یې په اختیار کې لري له هغو کاري ورځو سره د پرتلنې او مقایسې وړ دي، چې د کابل او جلال آباد کارکوونکو یې په واک کې لري دا ټکی ښیي، چې کورني کارونه د کاري ورځو په اساس دومره مهم کارونه نه دي، لکه څرنګه چې دا وړاندوینه ممکنه ده، چې په ټولو سیمو کې ددې ډول کارونو دمشخص کولو لپاره زیاتې څېړنې ته اړتیا ده، ترڅو پدې پوهه شو، چې ددې کار لاس ته راوړنې او اغېزې څه دي.

لومړی جدول: د کار د ډول پر اساس منځنی کاري ورځې

| | کورنی کار | آزاد کار | موقت کار | دایمی کار |
|---|---|---|---|---|
| کابل | ۱۷۲ | ۱۸۱ | ۱۱۸ | ۲۵۴ |
| هرات | ۹۷ | ۲۱۲ | ۲۳۲ | ۳۰۵ |
| جلال آباد | ۹۷ | ۱۲۸ | ۱۵۱ | ۲۸۱ |

## غیرمنظم کارونه، له ډېرو کاري ورځو سره ان تر اوسه له ځانه سره ناکافي عواید لري

آیا غیر رسمي وظایف اودندې کولای شي د افغانستان په ولسي سیمو کې د کورنیو د ژوند د پراختیا لپاره کافي عواید برابر کړي؟ ددغه پوښتنې په ځواب کې د کاري ورځني کاري عواید براورد شوي ترڅو په کاري ورځو کې د هر ډول توپیرونو ته پاملرنه وشي او همدارنګه میاشتني عواید هم براورد شوي دي ترڅو د مصارفو او کاري ورځو کچه تشخیص شي[4]

په ۳ او ۴ جدول کې د دایمي کار لاس ته راوړلو اهمیت او په همغه اندازه د کاري ورځو لاسته راوړل واضح شوي دي دا په داسې حال کې چې په کابل او جلال آباد کې د دایمي کار عواید له موقت کار څخه زیات ندي، په حقیقت کې په جلال آباد کې لږ دي، د هغوی میاشتني عواید په بشپړه توګه د موقتو کارونو له عوایدو څخه ډېر دي(۴جدول). نو همدا دلیل دی، چې دایمي کارکونکي ډېرې کاري ورځې په واک کې لري(۱جدول). په هرات کې په هره میاشت کې د دایمي کار کونکو ورځني عواید او کاري ورځې دواړه په څرګند ډول له نورو کارکونکو څخه زیات دي، دا په دې مانا چې د هغوی منځني میاشتني عواید نسبتا ډېر دي.

همدارنګه دافغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لخوا په پلخمري کې د دایمي کار ارزښت د ولسي ژوند په هکله د تایید وړ ګرځېدلی دی د بغلان پدې ښار کې د افغانستان د نورو ښارونو په پرتله صنعتي کارونه ډېر دي، څېړنو ښودلې ده، چې د ټوټو او قالینو اوبدلو په کارخانه کې د یو شمېر کورنیو په استخدام سره هغوی د پام وړ ګټه ترلاسه کړې ده او د اوسیدو اسانتیاوې او ثابت عواید یې په لاس ورغلي دي دغه کورنی د تولید او کاري


۲ د لازیاتو معلوماتو لپاره په کلیو کې پایدار معیشتونه، د تحلیل طرحه د آی دی اس ,, شمیره کاری څپرونه، سوسکس آی دی اس

۳ د میدین، منځنی کچې اصطلاح هغه ټکی په ګوته کوی چې نیمایې ځواب ورکوونکې له هغه ټکی څخه پورته او نیمایې له هغه څخه ښکته دی د میدین ټکی د شمیری په ښه توګه وړاندی کوی، خصوصاً کله چې د دغو شمیرو ترمنځ ډیر توپیر موجود وی


۴ د لازیاتو معلوماتو لپاره موخه ایزه مرستی له هغو کورنیو سره چې بیلابیلو او د ښو عوایدو کارونو ته لاس رسی نلری وګورئ

۵ د صنعت لږوالی، د بیوزلی وده، د پلخمری په ښار کې ښاری معیشتونه د ستیفن شوت لیکنه وګورئ، ,,,, کال، کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

*دریم شکل*: د کار د ډول پر اساس منځنی ورزنی عایدات




*څلورم شکل*: د کار د ډول پر اساس میاشتنی منځنی عواید




فرصت د لږوالي سره سره نه یوازې خپل ژوند په پښو درولی دی بلکې پدې توانېدلي دي، چې د کورني ژوند ښه کولو او د خپلو ماشومان د روزلو لپاره کافي سرمایه ترلاسه کړي. دغه سرمایې سره له لږوالي له دې کورنیو سره مرسته کړې ده ترڅو د خپل بعدي نسل لپاره مطمئن او سوکاله ژوند رامنځته کړي او د خپل راتلونکي لپاره پلانونه جوړ کړي.

یو بل د پام وړ راپور چې دغه جدولونه ښیي، دا دی، چې د هرات ولایت موقت او آزاد کار کوونکي د کابل ولایت د موقتو او آزادو کارکوونکو پرتله ډېرې کاري ورځې په اختیار کې لري، د هغوی ورځنی عاید لږ دی، چې پدې سره د هغوی میاشتني عایدات هم لږ راځي په نتیجه کې ښايي د هرات ولایت کارکوونکي د لږ ورځني عاید له کبله د نورو ولایتونو د کارګرانو پرتله ډېرو کاري ورځو ته اړتیا ولري دا کار کېدای شي پدې ولایت کې د ښځو د کار د زیات رواج لامل شوی وي ،پدې ولایت کې په سلو کې ۴۳ برخه د ښځو کار ونډه جوړوي ؛ ښځې لکه څرنګه چې تر سترګو کېږي د لږو کاري عوایدو له کبله په کار کولو مجبورې نه دي.

په هرات ولایت کې دغه ښځې په خپلو کورونو کې کار کوي دوهم جدول ښیي،چې ددغو ټولو کارکوونکو د عاید کچه ټیټه ده او ښځې هم له خپلو کارونو څخه ډېر لږ عاید ترلاسه کوي دا احتمال شته، چې ښځې د خپلو کورونو د مالي ستونزو د لرې کولو لپاره مزدورۍ ته اړې شي، خو بیا هم د ښځو د کارونو عواید د کورنۍ د مالي ستونزو د لرې کولو لپاره کافي نه دي، بلکې یوازې کولای شي، چې خپلې کورنۍ د فقر او بېوزلۍ په کنده له پرېوتو څخه وژغورې که ښځو کولای شوای، چې د کابل په څېر په منظم ډول کار وکړي، له خپل کار څخه بې غوره ترلاسه کولای شوای، د هرات کورنیو او ښځو هم کولای شوای، چې په اقتصادي فعالیتونو کې په ونډې اخستو سره بې ډېره ګټه ترلاسه کړې وای.

کله څرنګه چې په ، جدول کې وینئ، له ډېرو کارونو څخه ترلاسه شوي کلني عواید په افغانیو او ډالرو سره ډېر خواشینوونکی انځور وړاندې کوي دا کورني عواید نه بلکې فردي عواید دي خو د مطالعې په اړونده سیمو کې په ډېرو کورنیو کې د کار کوونکو منځنۍ کچه په هر کور کې د ، څخه تر ، نفرو پورې تشکیلوي، د زیاتو لګښتونو پرتله د فردي عوایدو لږوالی ډېرې کورنۍ له اقتصادي اړخه اندېښمنې کړې دي پدې اساس په رسمي او غیر رسمي اقتصادي برخه کې د نارینه او ښځینه کار کوونکو لپاره د کاري فرصتونو پیدا کول یو ضروري موضوع ده د (د عوایدو او کاري شرایطو په چار چوکاټ کې) په هېواد کې د ژوند د آسانتیاوو د برابرولو لپاره د کاري فرصتونو پیدا کول او د موجوده فرصتونو کیفیت ښه کول د لومړنیو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي.

*دوهم جدول*: منځنی کلنی برآورد شوي عواید

| | جلال آباد | | هرات | | کابل | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ډالر | افغانۍ | ډالر | افغانۍ | ډالر | افغانۍ |
| کورنی کار | ۷۷ | ۳.۷۵۵ | ۵۲ | ۲.۵۴۷ | ۱۸۲ | ۸.۹۰۲ |
| آزاد کار | ۵۲۰ | ۲۵.۴۷۵ | ۲۹۲ | ۱۴.۳۰۵ | ۳۸۲ | ۱۸.۷۴۰ |
| موقت کار | ۵۳۲ | ۲۲.۰۷۵ | ۴۹۰ | ۲۴.۰۱۱ | ۳۷۰ | ۱۸.۱۱۳ |
| دایمی کار | ۲۹۲ | ۳۴.۰۹۸ | ۱.۵۸۸ | ۷۷.۸۱۰ | ۲۴۴ | ۳۱.۵۷۸ |

# وړاندیزونه

د نویو کاري فرصتونو پیدا کول او موجوده کاري فرصتونو ته ښه والی ورښښل باید د عامه پراختیا په اړونده پلانونو کې بشپړ لومړیتوب ولري کافي او ثابت عواید کولای شي، چې د افغانستان په ښارونو کې د محرومو کورنیو ژوند ته سوکالي ور په برخه کړي دا کار کېدای شي، چې دولت په خپل ځان متکي او په سیاسي ثبات کې د هغه د ونډې اخستو لامل شي. دا یوازې کافي نه ده، چې دولت یوازې د کاري فرصتونو په زیاتوالي بسنه وکړي، بلکي اړینه ده، چې د کاري فرصتونو کیفیت هم ښه او لوړ شي همدارنګه د کاري ځواک مهارتونه او وړتیاوې هم باید د کار او دندو له غوښتنو سره مطابقت ولري د پلان جوړونې په لاندې وړاندیزونو کې د ښاري ژوند د ښه کولو په موخه ځینې تګلارې د غیر رسمي اقتصاد د ودې اویو داسې چاپېریال له لارې وړاندې شوي دي، چې په هغو کې د باکیفیته کاري فرصتونو برابرول ارزښتناک ګڼل شوی دی.

۱. د هېواد د آزاد بازار د څرګندې شوې تګلارې له سره ارزول او د عادلانه پراختیا په موخه په مهمو صنعتونو کې د ستراتیژیکو تګلارو مراعاتول او همدارنګه د افغانستان د خلکو لپاره په رسمي اقتصاد کې د کاري فرصتونو زیاتول.

۲. دا ډاډ ترلاسه کول، چې د کمیت پرتله د کیفیت له مخې رامنځ ته شویو کاري فرصتونو ته ارزښت ورکول کېږي ددندو څرنګوالي ته پاملرنه کېدای شي، د ځانګو په هغه منځمهاله او اوږدمهاله تحلیلونو او شننو، چې په هغو کې د ټاکنې معیارونه د دندو د رامنځته کولو او څرنګوالي لپاره د لوړ مقام درلودونکي وي، تر سره شي موخه داده، چې داسې کاري فرصتونو رامنځته شي، چې د لوړو مهارتونو او ډېر معاش څخه برخمن وي دداسې لارو چارو په لټه کې هڅه مه ونشی، چې مهارت او مزد یې لږ وي.

۳. په فني او حرفوي زده کړو او د صنعتي او خدماتي ودې لپاره د غوره چاپېریال په رامنځته کولو کې د بریښنا او نورو مهمو او ضروري برخو کې پانګونه وشيء پدې برخه کې ګام اخستل به دا باوري کړي، چې افغانان د تخصصي کارونو د ترسره کولو لپاره فرصتونه لري او دې ته چمتو دي، چې د خپلو پراختیایي برخو اړتیاوې په خپله پوره کړي

۴. دعامه کار په ځواک کې د ښځو ونډې اخستو ته داسې لار هواره شی، چې د ښځو لپاره د کار غوره فرصتونه او واقعي شرایط ولري او په هغو کې د ښځو ګډون ته ارزښت ورکړل شي او داسې لار برابره شی، چې ښځې په سم ډول خپله ونډه واخلي همدارنګه کورني فشارونه لږ او ښځو ته د کار کولو فرصت برابر شی د بریښنا ، اوبو او نورو خدماتو په برابرولو سره کیداشی، دا کارونه ترسره شی

۵. د خلکو د بېوزلۍ د کچې راټیټولو لپاره او د محرومو خلکو د ژوند د ښه کولو په موخه د افغانستان د ملي پراختیا له استراتیژۍ، څخه کار واخستل شيء داکار په هغه صورت کې ترسره کېدای شي، چې د ولسي خلکو د بېوزلۍ بې شمېره ستونزو او د هغو پر وړاندې د سهي او همغږې تګلاره جوړه شي، د خلکو لپاره کار پیدا شي، مهارتونو ته یې وده ورکړل شي او عامه خدمات برابر شي او همدارنګه د ولسي حکومت اداري ښه والی ومومي.

۶. تمویلوونکي باید د ښاري ځانګې اهمیت له پامه ونه غورځوي او دېته ژمن شي، چې دهغه نوښتګرو او ټولګټو پروګرامونو ملاتړ به کوي، چې د ښاري بېوزلۍ کچه راټیټه او په دولتي ادارو کې د ننه وړتیاوې پیاوړې کړي، ترڅو له ښاري پراختیا څخه برخمن شي دا کار منځ مهاله او اوږدمهاله مالي ژمنو او همدارنګه د لنډمهاله ازموینېتي بسپنې ورکولو طریقې بدلون ته چې په تناسب سره نه ترسره کېږي، اړتیا لري د مالي مرسته ورکوونکو ملاتړ ترلاسه کول هم د ادارو په بریالی سمون پورې تړی دی.

په ټولیزه توګه لاس پلورونکو، په لارو او کوڅو کې خرڅوونکو، کراچۍ لرونکو او نورو مزدورکارانو ته په اقتصادي برخه کې د غیر رسمي او ان وروسته پاتې ګډون کوونکو په توګه پاملرنه نه کېږي او دغه خلک اکثره د مناسبو کاري فرصتونو او د ښاري پلان جوړونې له بهیر څخه محروم دي هغوی د افغانستان په ولسي اقتصاد کې د پام وړ ونډه لري، نو له همدې کبله باید د هغوی د کاري فرصتونو لپاره هڅې وشي.

پدې برخه کې لاندې مرحلې وړاندیز کېږي.

- لاس پلورونکي او په لارو کوڅوکې ګرځنده پلورونکي باید وپېژندل شي، چې د ولسي او عامه اقتصاد ارزښتناک او بنسټیز عاملین ګڼل کېږي او هغوی ته باید د کار او بار جواز لیکونه ورکړل شي، ترڅو د پولیسو او نورو حکومتي او ناحکومتي افسرانو لخوا یې د کرایه کولو کچه ډېرې ټیټې کچې ته را کښته شي.
- یوه ټولیزه مشورتي تګلاره رامنځ ته شی، چې په هغې کې د غیررسمي اقتصادي فعالیتونو د ترتیب او تنظیم څرنګوالی وڅېړل شي او دا باوري شی، چې د دواړو غیررسمي او عامه کارکوونکو ستونزې څېړل کېږي ددې ډول تګلارې جوړول رېړولو او کړاو ورکولو ته د پای ورکولو په مانا دي او همدارنګه دا هم باوري کېږي، چې لاس پلورونکي او نور نارسمي فعالیتونه ولسي او عامه اغېزناکو فعالیتونو ته صدمه نه رسوي.

AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشی کوڅه (د دوهمی کوڅی ګوښه)
نوری ښار کابل
ټلفون +۹۳ (۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸
areu@areu.org.af
www.areu.org.af